

## د نرگس د گل گټې د احادیثو او روایاتو له مخې

قال رسول الله (صلی الله علیه و آله و سلّم):
شُمُّوا النَّرجِسَ و لَو فِي اليَومِ مَرَّةً ، و لَو فِي الأُسبوعِ مَرَّةً ، و لَو فِي الشَّهرِ مَرَّةً ، و لَو فِي السَّنَةِ مَرَّةً ، ولَو فِي الدَّهرِ مَرَّةً ؛ فَإِنَّ فِي القَلبِ حَبَّةً مِنَ الجُنونِ وَ الجُذامِ وَ البَرَصِ و شَمُّهُ يَدفَعُها.

**پیغمبر اکرم** (ص) فرمایلي دي: چې د نرگس گل لږ تر لږه (حداقل) باید په ورځ کې یا اونۍ کې یا میاشت کې یا کال کې او یا هم په ټول عمر کې یو ځلې بوی کړي، ځکه چې د انسان په زړه کې د جنون او جذام یوه ریښه ده چې د نرگس گل بویول هغه له منځه وړي.

**یادوونه:** د گرم مزاج لرونکي کسان باید د نرگس د گل په بویولو کې زیاتی (زیاده روي) ونکړی ځکه د سر دردۍ لامل کېږي. امیندواره (حمل لرونکې) او شیدې ورکوونکې ښځې باید د نرگس گل د پیاز څخه استفاده ونکړي ځکه د ماشوم (جنین) د سقط لامل کېږي.



## د نرگس د گل آفتونه او مرضونه

د دې گل مهم مرضونه ویروسونه، باکتریاگانې، قارچونه او عمده آفت یې حلزونونه دي. د ویروسونو اغیز په نرگس باندې د گل، پاڼې او څانگې د زیان رسولو لامل کېږي. قارچونه هم د نرگس گل ته ډیر زیانونه رسوې چې د پاڼو د ژیړ کېدو او د غوزو د ورستیدو لامل کېږې. خاکزي قارچونه کولاې شې چې تر ډیرې مودې پورې په خاوره کې پاتې شې ځکه باید ککړ گلان له منځه یوړل شي، کرنیز تناوب مراعت او د نرگس گل د کرلو څخه تر ۵ کلنو پورې په ککړو خاورو کې ډډه وشي.



یو ډول مچ چې د Merodon equestris (هغه مچ چې د نرگس د پیاز د ورستیدو لامل کیږی) په نامه یادیږې د چنگابښ میاشتې په منځنې ورځو کې په هغو خاورو کې چې د نرگس گل کرل شوې وې هگۍ اچول (تخمگذاري) کوی چې وروسته یې لاروا د خاورې پواسطه غوزې ته ځان رسوي او د غوزو دننه کې په تغذې شروع کوې او د غوزو په خالې پوستکي کښې ژمی تیروي او د ورې (حمل) میاشتې په منځ کې د بالغ مچ په شکل د خاورې څخه راوځي.



### د افغانستان د بڼوالۍ د پرمختیا ملي مؤسسه

### د بڼوالۍ د خصوصي سکتور د پرمختگ حمایه کول

# د نرگس گل

# NARCISSUS




**پته:** تایمنی، 9 سړک، د موی مبارک تر څنگ، کابل، افغانستان

**بریښنالیک:** info@anhdo.org.af

**ویب:** www.anhdo.org.af

**د اړیکې شمیره:** 202 232 22 (0) 93 +

## تشریح Description

د نرگس گل چی انگریزي نوم یې NARCISSUS، عربي نوم یې نرجس او په یوناني ژبه کښې ورته لبنوس ویل کیږي د Amaryllidaceae د کورنۍ څخه دی چې په نړۍ کې یې د ۵۰ څخه ډیر ډولونه په سپین، ژیړ، نارنجي رنګونو، مګر په افغانستان کې یوازې سپین او ژیړ رنګونه مروج او موندل کیږي. د نرګس ګل څو کلن دایمي پیازي (Bulb) لرونکي بوټی دي چې د ټیټ قد لرونکو ډولونو لوړوالی یې د ۳۰ څخه تر ۴۰ سانتي متره او د لوړ قد ډولونه یې تر ۸۰ سانتي مترو پورې رسیږي. معمولاً دا ګل د ۴-۶ پورې اوږد، نازک، خطي او هواره شنې پاڼې لري چې د ګل د ساقې سره یو ځای د ریښو یا غوزو څخه وده کوي. د نرګس ګل په سویلي اروپا، شمالی افریقا او په خاصه توګه په غربي مدیترانه یا ابري ټاپو وزمه پورې تړاو لري، همدارنګه په چین، فلسطین، اردن، افغانستان او مراکش کې ښه وده کوي.



د نرګس ګلان د ساقې په پاسني (اخره) برخه کې تولیدیږي چې ځینې ساقې یې د یو او ځینې یې د څو ګلانو د تولیدولو وړتیا لري چې هر ګل یې د ۳ کاسبرګه (Sepal) او ۳ ګل پاڼې (Petal) چې د رنګ او سایز له نظره یو شان دي او همدارنګه یو مرکزي تاج چې د اوږدوالي او رنګ له نظره په هر ګل کې توپیر لري تشکیل شوي دي. لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه چې د نرګس ګل څو کلن دایمي پیازي (Bulb) لرونکي بوټي دی چې پیاز یې درې طبقه یې او کولای شي څو کاله په دوامداره توګه ګل تولید کړي او د هر کال په تیریدو سره خپل ښکلا له لاسه ورکوي یا درشته کیږي.

## د کرلو ځای انتخاب

د نرګس ګل د ژمي د سړې هوا په وړاندی مقاومت لري او پیاز یا بلب باید د ګل د تولید په خاطر د ۸ څخه تر ۱۰ اونیو پورې د ژمي د ۶-۸ درجو د سانتي ګراد په سړې هوا کښې وساتل شي. نرګس د ګل د تولید لپاره د لمر وړانګو ته اړتیا لري او په ښه زهکښي شوي لوم خاوره کښې چې مناسب مقدار عضوي مواد ولري چې pH یی د ۶ څخه تر ۷ پورې وي کولای شي ښه وده وکړي او د ۱۵ سانتي مترو (د دوو بوټو تر منځ) په واټن کرل کیږي.

د نرګس ګل د ژوند د دوام لپاره ډیر او منظم خړوبولو ته اړتیا لري او باید په یاد ولرو چې د ګل د تولید په وخت کې اوبه لګونه کمه کړو ځکه زیاتې اوبه د پاڼو تولیدولو کې مرسته کوي او د ګل د تولید د ځنډیدو سبب کیږي.



## د کرلو وخت

د نرګس ګل د نورو ګلانو په پرتله په آسانۍ سره کرل کیږي، په سړو سیمو کې یې د کرلو مناسب وخت د زمري او وږي میاشتي دي تر څو وکولای شي ریښې مخکې له ژمي تولید کړي. په ګرمو سیمو کې د غوزو د کرلو مناسب وخت د تلې څخه تر لړم میاشتې پورې صورت مومي. د نرګس ګل په لمریز، نیمه لمریز ځایو کې ښه وده کوي او د پسرلي په لومړیو کې د ګل په تولید پیل کوي.



## د نرګس د ګل تکثیر

د نرګس ګل معمولاً د پیاز په واسطه تکثیر کیږي په همدې خاطر د ګل کولو په پای کې د اوړي په اخیرو کې غوزې (بلب) د ځمکې څخه راباسي او وروسته د پاکولو څخه هغه غوزې چې د اصلي پیاز څخه منځ ته راغلې وي په ډیر احتیاط سره جلا کیږي او د بیا کرلو تر وخته پورې په مناسب او وچ ځای کې ساتل کیږي.





په ازاده هوا کې د نرګس د ګل پیاز یا غوزی باید د ۱۰-۱۵ سانتي مترو په ژوروالي کې چې د دوو قطارونو تر منځه فاصله ۲۵-۳۰ سانتي متره او د دوو بوټو تر منځ فاصله ۱۰-۱۵سانتي متره وي او په ګلدانو کښې د نرګس پیاز چې معمولاً په مني کښې کرل کیږي باید په داسې شکل وکرل شي چې د پیاز پورتنۍ هغه برخه چې ساقه او پاڼې ترې شنه کیږي په خاوره کې پټ نشي او ګلدانونه د ۱۰ څخه تر ۱۵ اونیو پورې د رڼا څخه لرې په تیاره موقعیت کې ځای پر ځای شي تر څو غوزې ریښه تولید کړي، وروسته د هغې ګلدانونه داسې یو معتدل ځای ته انتقال چې هلته د لمر وړانګې په تدریجي ډول سره هغه ته ورسیږي او د تودوخې درجه باید د ۱۵ څخه تر ۱۸ سانتي ګراد وي.



## د نرګس د ګل ځانګړتیاوې

د نرګس ګل سربیره پردې چې د چاپیریال په تازه والي او ښکلا کې مهم رول لري ځینې طبي ګټې هم لري. د نرګس ګل ضد عفوني کونکې خاصیت لري چې تیل یې د رحم درد او کګړتیاوې لیرې کول، د معدې د چنجیانو په لیرې کولو کې، جسماني بیروني او داخلي دردونو او زخمونه لپاره،، د بدن مقاوت د سړې هوا په مقابل کې زیاتوي او د مثانې درد ته ډیرې ګټې لري. د نرګس ګل بویول د سر درد تسکینوی د پوزې بندوالی او زکام له منځه وړي او روحیي تغیر او مثبتې انرژۍ په رامنځ ته کولو او د خفګان په درملنه کې اغیزمن بلل کیږي.